## ماشومانو مقدس کتاب
### وړاندې کونکے

# د خدائ د کور سردار عیسی مسیح له د ملاوېدو د پاه راځی.



لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Byron Unger; Lazarus
Alastair Paterson

خوښونکے: M. Maillot; Sarah S.

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددگار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.



یوه ورځ عیسی مسیح د خدائ پاک کور ته لاړلو، نو هغۀ خلق ولیدل چې د خدائ پاک د کور سپکاوے یې کولو. هلته خلقو د ځاروو اخستل خرڅول کول. او د خدائ په کور کښې یې تجارت کولو.



عیسی مسیح هغه ټول خلقو د خدائ پاک د کور نه وباسی. او هغوئ ته یې حکم وکړو چې تاسو د خدائ پاک د کور نه دا هر څۀ لرې کړئ. زما د پلار د کور نه د تجارت اډه مۀ جوړوئ. عیسی مسیح د خدائ کور سره مینه کوله.



3

مشرانو عیسی مسیح نه نښې وغوښتلې. چې مونږ ته پته ولګی چې تا له دا حق چا درکړے دے چې تۀ مونږ د دې کور نه وباسې. دا مقدس کور راوغوزوئ او زۀ دا په درېو ورځو کښې بیا جوړ کړم. عیسی مسیح جواب ورکړو. دا نا ممکنه ده، د دې کور په جوړولو باندې خو شپږ څلوېښت کاله لګېدلی وو.



4

خو عیسی مسیح د خپل بدن خبره کوله. د هغۀ بدن لکه د لکه د مقدس کور په شان د خدائ پاک د اوسېدو ځائ وو. عیسی مسیح به سولئ باندې مړ شی خو هغه ته پته وه چې خدائ پاک به هغه په درېمه ورځ بیا د مړو نه ژوندے کړی.



5

د شپې په تیارۀ کښې، د خدائ د کور سردار عیسی مسیح سره د ملاوېدو د پاره راځی. هغۀ ته د هغه معجزو نه پته ولګېده کوم چې به عیسی مسیح کولې، چې عیسی مسیح خدائ پاک رالیږلے دے. نیکودیموس د عیسی نه د خدائ پاک او د نورو ډېرو څیزونو د زده کولو د پاره راغلو.



6

عیسی مسیح نیکودیموس ته ووئیل چې څوک د خدائ پاک په بادشاهئ کښې داخلېدل غواړی نو هغوئ له په کار دی چې د نوی سر نه پیدا شی. نیکودیموس د عیسی مسیح په خبره باندې پوهه نۀ شو. یو بالغه انسان دوباره څنګه پیدا کېدے شی؟ دې سره سره، هغه ډېر مذهبی هم وو. ولې دا کافي نۀ ده؟



7

عیسی مسیح ورته وضاحت وکړو، چې هغه چې د کوم روح نه پیدا شوے دے هغه هغه روح دے. د خدائ پاک روح د هوا په شان دے، خلق هوا نۀ لیدے شی او نۀ پرې پوهېدے شی. هغه صرف دې ته ګوری څۀ چې هوا کوی.



8


عیسی مسیح نیکودیموس ته د بنی اسرائیلو د ډېر
وخت مخکښې هغه شکایت را په یاد کړو، کوم یې چې
موسی ته کړے وو. مونږ سره نهٔ د خوراک د پاره څهٔ شته
او نهٔ د څښلو د پاره. او زمونږ د دې ډوډئ نه نفرت دے
کومه چې خدائ پاک مونږ له راکوی. هغوئ فریاد کولو.
9


د خلقو دې ګناه خدائ پاک په قهر
(غصه) کړو. هغهٔ په هغوئ باندې
ماران راولیږل، او هغه مارانو هغه
خلق وچیچل. او ډېر خلق مړهٔ شول.
10


بیا خلقو ووئیل چې
مونږ ګناه کړې ده، زمونږ د
پاره دعا وکړه چې خدائ پاک دا
ماران زمونږ نه لرې کړی. بیا موسی
د هغوئ د پاره دعا وکړه. خو خدائ
پاک ماران لرې نهٔ کړل.
11


خدائ پاک موسی ته
حکم وکړو، چې تهٔ یو لوئ مار جوړ کړه، او
هغه په یوه ستنه راځوړند کړه. نو چې څوک
هم مار چیچلی وی او هغوئ دې مار ته
وګوری نو ژوندی به پاتی شی. خدائ پاک
وعده وکړه. او موسی د پیتلو نه یو مار
جوړ کړو او چې چا به هم هغه مار ته
کتل نو شفا به یې موندله.
12


عیسی مسیح نیکودیموس
ته ووئیل چې ابن آدم به
هم پیتلو د
مار په شان په ستنه راځوړند
کړے شی. عیسی مسیح د هغه
سولئ خبره کوله په کومه
سولئ چې به هغه د ګناه
ګارانو د پاره خپل
ځان قربان کړی.
13


عیسی مسیح ووئیل، خدائ پاک دې دنیا
سره داسې مینه وکړه چې هغهٔ
خپل یک یو زوئ راولیږلو. او چې
څوک هم په هغهٔ باندې ایمان
ساتی نو هغه به هلاک نهٔ
شی، بلکې د تل عُمری
ژوندون به ومومی.
14




15




16




17

د خدائ د کور سردار
عیسی مسیح له د ملاوېدو د پاه راځی

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصئ

شته دے

یوحنا ۲ ـ ۳، شمېر ۲۱

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ـ"
زبور 130:119

18




41 60

19

دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا
مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې.
د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغۀ خپل
یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په
سولئ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته
لاړو. کۀ تۀ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو ګناهونو بخښنه
غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به
استوګنه کوی او تۀ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کۀ تۀ په دې ایمان لرې چې دا ریښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زۀ
ایمان لرم چې هم تۀ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ
شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما
ګناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم.
زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲

20